د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز ۲۰۱۲/۰۷/۳۱

# د بشر د حقونو د خپلواک کمېسیون د نوی غړو په ټاکلو کې ځنډ

او

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د زیاتیدو په اړه
د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز اعلامیه

۱۳۹۱المریزکال د زمري ۹ نېټه
کابل

داصولو له مخې دبشر دحقونو د خپلواک کمیسیون دغړیو دخدمت موده پوره شوې ده او دفغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رییس هم څو میاشتې مخکې د همدې موضوع په اړوند د مدني ټولنې سره په یوه ګډه ناسته کې ژمنه وکړه ، چې ددی کمېسیون ټول غړي به لرې کوي او په ځای به یې نوي وړ کسان ټاکي . په همدې ناسته کې جمهور رییس د مدني ټولنې څخه وغوښتل چې دنوموړي کمېسیون د نویو غړیو د ټاکلو لپاره د وړ کسانو لست هغوي ته واستوي چې دا کار هم د مدني ټولنې له خوا تر سره شو . خو له بده مرغه په دې اړوند د هېواد د جمهور رییس لخوا تر اوسه هیڅ اقدام نه دی شوی.

دمدني ټولنې دهمغږۍ مرکز چې له (۲۰۰) څخه د زیاتوبنسټونو استازیتوب کوي د افغانستان د اسلامي جمهوریت له جلالتمآب جمهور رییس څخه په ټینګه غوښتنه کوي چې ددې کمېسیون دنویو غړیو په غوراوي او ټاکلو کې دې د هېواد د ملي ګټو په رڼا کې ژر تر ژره مسوولانه اقدام وکړي او دغه کمېسیون دې له سره نوی کړي، داسې شخصیتونه دې په کې وګماري چې پر بې پرېوالي یې شک نه وي ، له هر ډول تعصبونو او تمایلاتونه پاک او دهېواد ملي یووالي او ګټو ته ژمن ،دبشرحقونوته رینتني وفادار،دسولې پلوي ، دجګړې او تاوتریخوالي مخالف وي.

د۲۰۱۴نه تر۲۰۲۴ کال پورې د نړیوالو مرستو هغه ژمنې چې د افغانستان له دولت سره د توکیو په کنفرانس کې ترسره شوې هغه ټولې مرستې د افغانستان د حکومت لخوا د شوو ژمنو په سرته رسولو پورې مشروطې دي لکه ښه حکومتداري، د اداري فساد په وړاندې د کوټلیو ګامونوپورته کول او داسې نور. نو له همدې کبله د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز د افغانستان د جمهور رییس لخوا د اداري فساد او ښې حکومت دارۍ په اړوند د اعلان شویو تصمیمونو ملاتړ کوي او له هغه څخه په دې اړه د عملي ګامونو د پورته کولو غوښتونکي یو نه داچې دغه اصلاحات لکه د پخوا په څېر یوازې د کاغذ پر مخ پاتې شي .

لکه څنګه چې د توکیو په کانفرانس کې پرېکړه شوې چې د مرستو د بهیر څارنه به دافغانستان مدني ټولنه ترسره کوي، نو له همدې امله د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز د یوه لوی مدني بنسټ په توګه د افغانستان له خلکو سره دا ژمنه کوي چې دغه مرکز به د دواړه لوریو لخوا د شوي ژمنو څارونکي وي او پر دواړو اړخونو به د مدني اصولو سره سم د ژمنو د پلي کولو لپاره لازم فشارونه راوړي.

په توکیو کنفرانس کې د نړیوالې ټولنې او افغان مدني ټولنې د غړیو یو بل ټینګار د افغان ښځو پر حقونو وو په دغه اړوند د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز لاندې مشخص وړاندیزونه لري

الف: د افغانستان اوسني نظام د ښځو حقونو ته د ژمنتیا له کبله مشروعیت تر لاسه کړی نو اړینه ده چې له شو ژمنو څخه دهېواد د ډېرو لرو سیمو ښځې او نجونې هم برخه منې شي د ښځو دتعلیم ،پرمختګ او خپل حق ته د رسیدلو لپاره اړتیا ده چې دهغوي لپاره ځانګړي پروګرامونه جوړ او پلي شي او ددې کار لپاره بیا اړتیا لیدل کېږي چې د دولت په کلنی بودیجه کې د ښځو لپاره ځانګړې برخه بېله او هغه په لاندې پروګرامونو ولګول شي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱ : په کومو سيمو کې چې د ښځينه ښوونکو د نشتوالي له کبله دانجونو ښوونځي تړلي او يا بيخي نشته باید له نورو سيمو څخه ښځينه ښوونکي د امتیاز په منلو ور ولېږدولي شي.

۲:د اقتصادي استقلالیت د تر لاسه کولو لپاره باید افغان ښځو ته د کرنې ،مالدارۍ، سوداګرۍ ، کوچنی لاسي او ماشيني صنعت ،مسلکي کاريګرۍ او نورو برخوکې د روزنې پروګرامونه جوړ شي او دا کار باید دولت او نړیواله ټولنه دهېواد له کلو او بانډو څخه پيل کړي.

۳: د ښځو د علمي کچې د لوړ والي لپاره اړتيا ليدل کيږي چې هغوی ته د ماسترۍ ،دکتورا او نورو لوړو زدکړو لپاره ځانګړي پروګرامونه په پام کې ونیول شي. د کار په ساحه کې د ښه پرمخ تګ لپاره ورته د اداري او منجمنت د مهارتونو روزنه ورکول شي.

۴: د افغانستان په عدلي او قضايي سیستم کې دښځو حق ته د درناوي دکچې دلوړولو لپاره اړتيا ده چې پولیس ،مستنطقين ، څارنولان ،قاضیان او نورو ټولو هغه کسان چې په دغه سیستم کې کار کوي ښځو ته په درناوي مکلف شي او ورته روزنه ورکول شي چې دښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي او بد چلند د قضيو پر وړاندې ډېر حساسه اوسي او ورته لمړيتوب ورکړي.

۵: د روغتيا وزارت بايدخپلو کارکونکو ته داسې روزنه ورکړي چې که کله کومه ښځه او يا جلي دوی ته د درملنې لپاره راځي او دهغې پر ځان دوهلو ټکولو او يا تېري نښې نښانې ليدل کېږي بې توپيره پاتې نشي او ډېر ژر په دې اړه پوليسو ته خبر ورکړي.

۶: دافغانستان په لرو پرتو سيمو کې بايد ښځي او ماشومان له ستندردو روغتيايي خدمتونو څخه برخه من شي ددې لپاره اړتیا ده چې متخصص ډاکتران او مجرب نرسان يوازې په ښارونو کې نه بلکه په دې مکلف شي چې لرو پرتو سيمو ته د خدمت لپاره ولاړ شي.

ب: د پورته پروګرامونو د جوړولواو پلي کولو لپاره اړتيا ده چې د مالي، پوهنې ، لوړو زدکړو،کار او ټولنيزو چارو،روغتيا، کورنيو چارو،اقتصاد، دکليو د پراختيا، کرهنې او مالدارۍ،عدلي ،لوی څارنوالی او سوداګرۍ په وزارتونو کې د ښځو لپاره د پروګرامونو د جوړول معينيتونه جوړ شي.

درنښت

دمدني ټولنې دهمغږۍ مرکز

اجرائيه شورا


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ